**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# حسن خط

## څلورم ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال ۱۳۹۰ هــ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# حسن خط

## څلورم ټولګی

**د چاپ کال ۱۳۹۰ هـ. ش.**

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تد قیق کمېټې

**لیکوالان:**

۱. محمد ظاهر طاهري د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت آمر.

۲. عبدالجلیل آخند زاده د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.

۳. ژباړونکی: سید انور میچن خیل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.

**تایید او مطالعه:**

**ملي شورا:**

– د ولسي او مشرانو جرګو د دیني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

**د څېړنې او تدقیق کمېټې:**

**د علومو اکاډمي:**

– سرڅېړونکی عبدلواجد واجد د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.

– ذکریا ملاتړ د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز علمي غړی.

**د کابل پوهنتون:**

– پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې استاد.

**د پوهنې وزارت:**

۱. سعدالدین شپون د پوهنې وزارت سلاکار.

۲. نفیسه پوپلزی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړې.

۳. محمد غالب الله یار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.

۴. احمد شفیق برنایار د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکی.

۵. بلقیس احمدي د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکې.

٦. فرحتیار د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکی.

## د محتویاتو، ژبې، سیاسي، فرهنګي، او دیني برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټې:

– ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.

– دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلا کار.

– د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار.

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمیټه:

– دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین

– دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول

– د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس



(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر



(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوهنې د وزیر پیغام

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او درونده مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم ټولګي د حسن خط مضمون لړ لیک


| شمېر | مخ |
| --- | --- |
| لومړی لوست : | ۱ |
| دوهم لوست : | ۲ |
| دریم لوست : | ۳ |
| څلورم لوست : | ۴ |
| پنځم لوست : | ۵ |
| شپږم لوست : | ۶ |
| اووم لوست : | ۷ |
| اتم لوست : | ۸ |
| نهم لوست : | ۹ |
| لسم لوست : | ۱۰ |
| یوولسم لوست : | ۱۱ |
| دولسم لوست : | ۱۲ |
| دیارلسم لوست : | ۱۳ |
| څوارلسم لوست : | ۱۴ |
| پنځه لسم لوست : | ۱۵ |
| شپاړه سم لوست : | ۱۶ |
| اوه لسم لوست : | ۱۷ |
| اتلسم لوست : | ۱۸ |
| نولسم لوست : | ۱۹ |
| شلم لوست : | ۲۰ |
| یو ویشتم لوست : | ۲۱ |
| دوه ویشتم لوست : | ۲۲ |
| درویشتم لوست : | ۲۳ |
| څلور ویشتم لوست : | ۲۴ |
| پنځه ویشتم لوست : | ۲۵ |
| شپږ ویشتم لوست : | ۲۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه ویشتم لوست :......................................... ۲۷
اته ویشتم لوست : ......................................... ۲۸
نه ویشتم لوست : ......................................... ۲۹
دیرشم لوست : ............................................. ۳۰
یودیرشم لوست :.............................................. ۳۱
دوه دیرشم لوست :............................................ ۳۲
درې دیرشم لوست:............................................ ۳۳
څلور دیرشم لوست:........................................... ۳۴
پنځه دیرشم لوست:.......................................... ۳۵
شپږ دیرشم لوست: .......................................... ۳۶
اوه دیرشم لوست :............................................. ۳۷
اته دیرشم لوست :............................................. ۳۸

# لومړی څپرکی

# لومړی لوست

## د نسخ خط څو توریزې کلمې




موخه: د مد توری او د آس د کلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې:**

١. د مد توری څه ډول شکل لري؟

٢. آس د انسانانو په ژوند کې څه رول لري؟



**فعالیت:**

زده کوونکي دې د کرسي په خط د آس کلمه او د مد توری د نی په قلم څو واره تمرین کړي.

**گران ښوونکی دې:**

د زده کوونکو له ځوابونو وروسته د پورتنیو پوښتنو سم ځوابونه زده کوونکو ته ووایي او د آس کلمه د ټولگي په توره تخته ورته ولیکی، تر څو دوی د قلم حرکتونه زده کړي. د دوی کارونه تر نظر لاندې ونیسی او و دې هڅوي.

**کورنی دنده:**

دآس کلمه تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# دویم لوست



**موخه** : دټکو په واسطه د الف د توري اندازه او د احمد لـه کلمـې د سـمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتني**:

۱_ د احمد کلمه له څو تورو څخه جوړه شوي ده؟
۲_ احمد د کوم پیغمبر نوم دی؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د الف توری له اساساتو سره مشق کړي او بیا دې د احمد کلمه مشق او تمرین کړي.

**گران ښوونکی**:

تاسی پوهیږئ چې د الف توری د پنځو ټکو په اندازه دی، چې دې ته د خط اساسات وایي په دې برخه کې زده کوونکو ته معلومات ورکړئ. د دوی د نی قلمونه جوړ کړئ او لازمه لارښونه ورته وکړئ!

**کورنۍ دنده**:

په نی قلم، پنسل او خود کار قلم پورته کلمه تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېيم لوست



**موخه**: د (ب) د توري دټکي ايښودنه او د کرسي په خط د باران د کلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې**:

۱. د ب توری څو ډوله لیکل کیږي؟
۲. د کال په کوم فصل کې باران ډیر اوري؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د کرسي په خط پورتنۍ کلمه د نی په قلم مشق او تمرين کړي.

**ګرانه ښوونکیه**:

د ب د توري په سر چې کومې نقطې ایښودل شوي دي د همدې توري اندازه او اساسات دي، چې ددې ټکونه باید نه کم وي او نه زیات. زده کوونکي باید داسې وروزل شي چې دا ټکی د خط د لیکلو په وخت کې همیشه په پام کې ونیسي.

**کورنۍ دنده**: پورته کلمه د نی په قلم، پنسل او خود کار تمرین کړئ!

# څلورم لوست



**موخه**: د (( ج )) دتوري اساسات او د جنت د کلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې**:

۱. د جنت په هکله یوه جمله ویلی شی؟
۲. د ج توری په څو ټکو لیکل کیږي؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د ج د توري په اساساتو او د جنت د کلمې په اړه خبرې وکړي او بیا دې پورتنۍ کلمه د کرسي په خط د نی په قلم تمرین کړي.

**ګرانه ښوونکیه**:

د ج د توری د اساساتو او د جنت د کلمې په اړوند زده کوونکوته معلومات ورکړئ او د مشق او تمرین په وخت کې ورته لازمه لارښوونه وکړئ!

**کورنۍ دنده**: د جنت کلمه په پنسل او خود کار قلم تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم لوست



**موخه:** د (( د )) د توري د ټکي ايښودو او د درمند له کلمې د سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

## پوښتنې:

١. درمند څه ته وايي؟
٢. دڅو کلمو نوم اخیستی شئ چې د دال په توري پیل شوي وي؟



## فعالیت:

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته په خپلو کتابچو کې د نی په قلم ددرمند کلمه تمرين کړي . د دال توری د کتاب له مخې د ټکو د ايښودلو سره سره څو ځلې د کړکي په قلم مشق کړئ.

## گران ښوونکی دې:

د دال توری چې په ټکو ښودل شوی دی او د نی د قلم حرکتونه چې په پورته کلمه کې ښودل شوي دي زده کوونکو ته وروښيي.

## کورنۍ دنده:

د درمند کلمه په خود کار قلم او پنسل تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# شپږم لوست



موخه :د (ر) دتوري ټکي ایښودنه او د کرسي په خط د رنځ د کلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې:**

١ . د رنځ د کلمې لومړنی او روستی توري کوم دي؟
٢ . کوم رنځونه ډیر خطرناک دي؟



**فعالیت:**

زده کونکي دې د رنځ کلمه له اساساتو سره په نی قلم مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې:**

د (( ر )) توري د حرکت او اساساتو د ارزښت او د رنځ د کلمې په اړه زده کوونکوته معلومات ورکړي او د نی قلم حرکتونه په عملي توګه ورته وښيي.

**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې د رنځونو په اړه له خپلو لویانو څخه معلومات تر لاسه کړي. بیا دې پورته کلمه په پنسل او خود کار قلم تمرین کړي.

# اووم لوست



**موخه** : د کرسي په خط د سير د کلمې د سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

**پوښتنې**:

۱. د سير کلمه له څو تورو څخه جوړه شویده؟
۲. د نسخ خط لیکل درته په زړه پوري دي؛ که وي ولې؟





**فعالیت**:

زده کوونکي دې د سير د کلمې په هکله خبرې و کړي او بيا دې د نی په قلم هغه مشق او تمرين کړي.

**کران ښوونکی دې**:

د (( س )) د توري د ټکو په اینبودنه کې له زده کوونکو سره مرسته وکړي او بيا پورتنی فعالیت په دوی باندې سرته ورسوی او د سوالونو ځوابونه په صمیمانه فضا کې ورته ووايي.

**کورنۍ دنده**: د کرسي په خط تمرين وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتم لوست





**موخه** : د (( ص )) توری د اساساتو او د صداقت د کلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې**:

۱. صداقت له وګړو په ژوندانه کې څه ارزښت لري؟

۲. د صداقت کلمه ولې تمرینوئ؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او داسې کلمې دې پیدا کړي چې د ((ص)) په توري پیل شوي وي هغه دې مشق او بیا دې د هرې ډلې لیکنې د ټولګي مخې ته راوړي او نوروته دې وښیي.

**کران ښوونکی دې**:

د صداقت د کلمې ښیګڼې زده کوونکو ته ووایي او د پورتنۍ کلمې د لیکلو په وخت کې دې ورسره مرسته وکړي.

**کورنۍ دنده**:

د نی په قلم او خود کار قلم تمرین وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم لوست



**موخه**: د (( ط )) توری د ټکو اينبودلو او د کرسي په خط له سمو لېکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتني**:

**۱_ د ((ط)) توری له کوم توري نه مخکې راغلی دی؟**
**۲_ د (( ط )) توری د کرسي خط کومې خواته راځي؟**





**فعاليت**:

زده کوونکي دې د (( ط )) توری له اساساتو سره او د طاهر کلمه له اساساتو پرته په نی قلم مشق کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د ټولګي په توره تخته زده کوونکو ته د قلم حرکتونه وروښيي.
د ((ط)) توری د اساساتو او د طاهر د کلمې د سمو لېکلو په اړوند معلومات وړاندی کړي.

**کورنی دنده**: په خود کار قلم او پنسل مشق او تمرين وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم لوست



**موخــه** : د ((ع)) د تـوري د ټکـو ایـښودنې او سـمو لیکلـو سـره د زده کونکو آشنا کیدل.

**پوښتنې**:

۱. چاته عالم ویلی شي؟
۲. د ع د توري کاسه د کرسي د خط کومې خوا ته راځي؟



**فعالیت**:

د پورتني سر خط له مخې په نی قلم مشق او تمرین وکړئ!

**ګران ښوونکی دي**:

لومړی زده کوونکوته د عالم په هکله معلومات ورکړي او بیا دې پورتنی فعالیت پرې سرته ورسوی.

**کورنۍ دنده**:

په نی قلم، پنسل او خود کار قلم تمرین وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوولسم لوست

# فرهاد

**موخه** : د ((ف)) توري ټکی اېښودنه او د فرهـاد د کلمـې د لیکلـو لـه طریقې سره د زده کوونکو بلدیدل.

**پوښتنې**:

**۱ـ د فرهاد کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟**
**۲ـ د فرهاد د کلمې لومړی او وروستی توري کوم دي؟**




# فرهاد

**فعالیت**:

زده کوونکي دې دفرهاد او د هغې د سمو لیکلو د طریقې په هکله فکر وکړي بیا دې د (( ف )) توری د ټکو ایښودلو سره او د فرهاد کلمه څو واره مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د ټولګي په توره تخته د قلم حرکتونه زده کوونکو ته ولیکي او د هر حرکت په وخت ورته ووایي چې په ډیره څیرکتیا ستاسې لاس او لیکنې ته وګوري تر څو دوی د قلم په حرکتونو و پوهیږي.

**کورنۍ دنده**:

زده کوونکي دې په پنسل او خود کار قلمونو دفرهاد کلمه تمرین کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوولسم لوست



**موخه**: د (( ق )) توري د ټکي اېښودنې او دکرسي په خط باندې د قهـار د کلمې د سمو لیکلو له طريقې سره آشنا کېدل.

**پوښتنې**:

١ـ د کلمې په سر او مینځ کې د ((ق)) توری څه شکل غوره کوي؟
٢ـ قهار د چا نوم دی؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د (( ق )) توري او د قهار د کلمې په هکله په خپلوکې سره وغږیږي او بیا دې په نی قلم دغه کلمه مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دی**:

د ټولګی په توره تخته د قلم حرکتونه زده کوونکو ته وروښيي او د هغې معنی دې ورته ووايي او د پوښتنو سم ځوابونه ورته ووايي .

**کورنۍ دنده**:

د کرسي په خط باندې پورته کلمه په پنسل او خود کار قلم تمرين کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د یارلسم لوست




**موخه** : د (( ک )) د توري د ښکاینبودنې او دکوترې د کلمې د لیکلو له طریقې سره آشنا کېدل.

**پوښتنې** :

**۱ـ داسې څو کلمې ووایې چې لومړی توری یې ((ک)) وي؟**

**۲ـ کوتره د څه شي پیغام وړونکې ده؟**





**فعالیت:**

زده کوونکي دې د کوترې او د هغې د لیکلو د طریقې په اړه سره وغږیږي او د خبرو پایلې دې د ټولګیوالو په وړاندې ووایي او بیا دې په نې قلم مشق او تمرین وکړي.

**ګران ښوونکی دې:**

د پورته پوښتنو سم ځوابونه زده کوونکو ته ووایي . همیشه یې ښکلو لیکلو ته وهڅوی چې وړتیاوې (استعدادونه) یې وده وکړي.

**کورنۍ دنده:**

په نی قلم، پنسل او خود کار مشق وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوارلسم لوست



موخه: د (( ل )) دتوري د ټکوايښودنې او د کرسي پـه خـط د لالا د کلمې له سمو لیکلو سره آشنا کیدل.

**پوښتنې:**

١_ د دوو لامونو ترمنځ کوم توری پروت دی؟
٢_ لالا چا ته ویلی شو؟






**فعالیت:**

زده کوونکي دې د نی په قلم پورتنۍ کلمه د کرسي په خط تمرین کړي.

**ګرانه ښوونکيه:**

زده کوونکي سره را ټول کړئ او په یوه سپین کاغذ کې پورته کلمه داسې ولیکئ چې د قلم هر حرکت ته دوی متوجه کړئ تر څو په عملي ډول د نسخ خط په لارو چارو او د قلم په حرکتونو پوه شي او بیا دغه فعالیت ورباندې سرته ورسوئ.

**کورنۍ دنده:**

د نی پـه قلـم، پنسـل او خـود کـار قلـم تمـرین وکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځلسم لوست

## ماما

**موخه**: د (م) د توری داساساتو او د کرسي په خط باندې د ماما د کلمې له ښکلي لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

**پوښتنې**:

۱. ماما چاته ویل کیږي؟
۲. د ماما کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د ټکو اېښودنې او د ماما د کلمې د لیکلو په سمه طریقه وغږیږي او بیا دې په نی قلم پورتنۍ کلمه مشق کړي.

**کرانه ښوونکیه**:

تاسې پوهیږئ چې د هرې کلمې د لیکلو په وخت کې د قلم حرکتونه بدلون مومي، نو لازم یې ګڼو چې په بیا بیا درته ووایو چې د قلم حرکتونو ته د زده کوونکو پام ورواړوئ. تر څو د دوی استعدادونه وده وکړي او د حسن خط اساسات په ښه وجه زده کړي.

**کورنۍ دنده**: د کرسي په خط په پنسل او خود کار قلم تمرین وکړئ!

# شپاړسم لوست



**موخه**: د (( ن )) د توري د ټکي ایښودنې او د نړۍ د کلمې د سمو لیکلو له طریقې سره آشنا کېدل.

**پوښتنې**:

۱_ افغانستان د نړۍ په کومه وچه کې پروت دی؟

۲_ د نړۍ کلمې ته جمله جوړه کړئ؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د (ن) توري ټکی ایښودنه او د نړۍ کلمې ته په غور وګوري او بیا دې په نی قلم پورتنۍ کلمه تمرین کړئ!

**ګران ښوونکی دې**:

د لیکلو او د قلم د حرکتونو په اړه زده کوونکو ته لازمه لارښوونه وکړي او د نړۍ کلمه دې د ټولګي په توره تخته ولیکي تر څو دوی ښکلی لیک زده کړي.

**کورنۍ دنده**: پورتنۍ کلمه د کرسي په خط مشق او تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوولسم لوست

## واټن

**موخه**: د ((و )) د توري د ټکي ایښودنه او د واټن د کلمې له لیکلو له طریقې سره آشنا کیدل.

**پوښتنې**:

۱. واټن څه ته وايي؟
۲. په لاندینی کلمه کې د (( ن )) او الف تورو تر منځ کوم توری پروت دی ؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د (( و )) د توري ټکي ایښودنه او د واټن کلمې ته په ځیر وګوري او بیا دې هغه د کرسي په خط مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د ټکو ایښودلو او د واټن د کلمې په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتلسم لوست



**موخه**: د ((ه)) د توري ټکي ابنودنه او په كرسي خط باندې د هيلۍ د كلمې له ليکلو سره آشنا كيدل.

**پوښتنې**:

۱_ د هيلۍ په هکله څه معلومات لرئ؟
۲_ د هيلۍ کلمه د له کومو تورو څخه جوړه شوې ده؟



**فعاليت**:

زده کوونکي دې په ډېر غور د ((ه )) توري ټکي ابنودنه په پام کې ونيسي او بيا دې په نی قلم پورتنۍ کلمه څو څو ځلې مشق او تمرين کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د ((ه)) د توري له ټکو ابنودنې سره زده کوونکي بلد کړي او هڅه دې وکړي چې داسې ښکلي ليکونه وليکي چې ټکي ابنودنه يې مراعات شوې وي او دا کار يې بايد عادت وګرځي.

**کورنۍ دنده**:

په خود کار او پنسل قلمونو تمرين وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نولسم لوست



موخه: د ((ی)) د توري ټکي ايښودنه او د کرسي په خط د ياسين د کلمي له ليکلو سره آشنا کيدل.

**پوښتني:**

**۱_ د ياسين کلمه له کومو تورو څخه جوړه شوې ده؟**
**۲_ د خط د ليکلو په وخت کې څه احساس درته پيداکيږي؟**



**فعاليت:**

د (( ی )) د توری ټکی ايښودنه په پام کې ونيسئ او په نی قلم د ياسين کلمه مشق او تمرين کړئ او هڅه وکړئ چې توري د کرسي په خط سم وليکئ.

**ګران ښوونکی دي:**

د حسن خط له مضمون څخه موخه داده چې زده کوونکي له ښايسته ليکلو سره عادت شي څکه چې دا مضمون د ټولو مضمونونو بنسټ تشکيلوي. تاسي بايد د ښکلي خط په زده کړه کې له زده کوونکو سره مرسته وکړئ او پورتنی فعاليت ورباندې سرته ورسوئ!

**کورنی دنده:** پورتنی کلمه د نی په قلم څو واره تمرين کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## شلم لوست

## آلو

## د نستعليق خط څو توريزي کلمې

**موخه**: د مد توری او د آلو د کلمې له سمولیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول

**پوښتنې**:

۱. د مد توری د کومو تورو پر سر لیکل کیږي؟
۲. د ناولي آلو خوړل څه زيان لري؟



**فعاليت**:

زده کوونکي دې د پورتني مشق له مخې د حسن خط په کتابچو کې په نی قلم مشق او تمرين وکړي او د مد توری دې څو ځلې مشق او تمرين کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

زده کوونکو ته د مد او آلو د کلمې د سمو لیکلو په اړه لارښوونه وکړي .دوی ته د پاکو او ناپاکو شيانو د خوړلو په هکله چې د انسانانو په ژوند کې څه اغيزې لري معلومات وړاندې کړي.
د مد د توري او د آلو دکلمې د سمو لیکلو په وخت کې ورته لازمي لارښووني وکړئ.

**کورنۍ دنده**: د آلو کلمه تمرين کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


# یوویشتم لوست



**موخه**: د الف د توري اندازه په ټکو او د ادب د کلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنایي.

**پوښتنې:**

۱. د ادب کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده ؟
۲. د الف توری د څو ټکو په اندازه لیکل کیږي ؟



**فعالیت:**

زده کوونکي دې د الف توری له اساساتو سره او د ادب کلمه څو ځلي په نـی قلم په اړوندو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې:**

د الف او د ادب د کلمې د اساساتو په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي او د دوی قلمونه دې جوړ کړي.

**کورنۍ دنده:** د ادب کلمه په پنسل او خود کار قلم تمرین کړئ!

# دوه وشتم لوست

## باران

**موخه**:د کرسي په خط باندې د باران له کلمې د ليکلو سره د زده کونکو آشنا کول.

**پوښتنې**:

١. د ب توری څو ډوله ليکل کيږي ؟
٢. پوهيږئ چې باران څه ته وايي او څه گټه لري؟



**فعاليت**:

زده کوونکي دې د کرسي په خط د باران کلمه په خپلو کتابچو کې په نی قلم مشق او تمرين کړي.

**گران ښوونکی دې**:

د ب توری او د باران کلمه د کرسي په خط په توره تخته او د هغو د ځانگړتياوو په هکله زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

**کورنۍ دنده**: د باران کلمه په پنسل او خود کار قلم تمرين کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# در ويشتم لوست




**موخه**: د كرسي په خط بانديې د ج د تورى د اساساتو او د جوار د كلمې له لیکلو سره د زده کوونکو بلدیدل.

**پوښتنې**:

۱. د جوارو په باره کې يوه جمله ووایې ؟

۲. د ج توري په كاسه کې څو ټکي دي ؟





**فعاليت**:

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي د ټکو اینبودلو او د جوار د كلمې په هكله دې خبرې اترې وکړي او بیا دې د جوار کلمه د کړکي په قلم د کرسي په خط په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

په پورته تمرين کې زده کوونکو ته د ج د توري او د جوار د کلمې په اړه لنډ معلومات ورکړي . د مشق کولو په وخت کې دې لازمه لارښوونه ورته وکړي.

**کورنۍ دنده**: په پنسل او خودکار قلم د جوار كلمه تمرين کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورويشتم لوست



**موخه** : د درمل د کلمې له سمو ليکلو سره د زده کوونکو اشنا کول.

**پوښتنې**:

۱ـ د درمل په ارزښت پوهيږئ؟

۲ـ څو کلمې چې د دال په توري پيل کيږي وواياست؟



**فعاليت**:

زده کوونکي دې پورتنى تمرين د ښوونکي په مرسته په خپلو کتابچو کې د نی په قلم مشق کړي او د دال توری دې د ټکو له اينبودلو سره تمرين کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د دال توری د ټکو له اينبودلو سره دوی ته ورزده کړي او د درمل د کلمې د ليکلو په وخت کې دې دوي ته د قلم حرکتونه ور وښيئ.

**کورنۍ دنده**: د درمل کلمه په قلم او پنسل تمرين کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه ویشتم لوست



**موخه**: دکرسي په خط د ربښتیا دکلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو بلدیدل.

**پوښتنې**:

۱. د وګړو په ژوندانه کې ربښتیا ویل څه ارزښت لري ؟
۲. خلك ولې ربښتیا ویونکي خوښوي ؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د پورته کلمې په اساساتو خبرې وکړي او بیا دې هغه د نی په قلم مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د قلم د حرکتونو، د پورتنۍ کلمې د اساساتو او د ربښتیا ویلو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

**کورنۍ دنده**:

زده کوونکي دې له مور او پلار سره د ربښتیا ویلو په هکله وغږیږي او پورته کلمه دې تمرین کړي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ ویشتم لوست




**موخه**: د کرسي په خط دسړي د کلمې له لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې**:

۱. د س توری د سړي له کلمې نه پرته په نورو کلمو کې ویلی شئ؟

۲. ښه سړی کوم صفتونه لري؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د ښه سړي په صفتونو په خپلو کې وغږیږي او بیا دې د خپلو خبرو پایلې نورو ته ووايي او وروسته دې پورته کلمه د نی په قلم تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د زده کوونکو خبرو او پوښتنو ته غوږ ونیسي او دوی ته دې د س توری ټکی اینبودل ور زده کړي. د نی په قلم حرکتونو یې وپوهوي.

**کورنۍ دنده**: پورته کلمه په قلم، پنسل او خود کار مشق او تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوه ویشتم لوست

## صندوق

**موخه** : د ص د توری د اساساتو او د صندوق د کلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې:**

۱. د صندوق د کلمې کوم توری د کرسي خط د لاندې راځي ؟

۲. له صندوق څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟



**فعالیت:**

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي هغه کلمې چې د ص په توري پیل کیږی پیدا کړي او بیا دې هغه ولیکي او یو بل ته دې وښیي . وروسته دې د صندوق کلمه مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې:**

له هرې ډلې سره د کلمو په پیدا کولو کې مرسته وکړي د صندوق او د هغه په ګټو دې ورته وغږیږي او بیا دې پورته کلمه پرې تمرین کړي.

**کورنی دنده:** د صندوق کلمه مشق او تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اته ویشتم لوست




**موخه**: د ط توری د اساساتو او د کرسي په خط د طوطي له کلمې د سمو لېکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې** :

۱_ د واو توری له کوم توري وروسته راځي؟
۲_ طوطي مو لیدلی دی؟
۳_ کولای شئ چې د طوطي شکل انځور کړئ؟






**فعالیت**:

زده کوونکي دې د (ط) د توري اساسات په پام کې و نیسي او د طوطي کلمه دې مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د ټولګي په توره تخته د نی قلم حرکتونه زده کوونکو ته وروښیي.
د ط د توري اساسات او د طوطي د کلمې په هکله دې دوي ته معلومات ورکړي.

**کورنی دنده**:

زده کوونکي دې له خپلو لویانو څخه د طوطي په اړه معلومات راغونډ کړي او د طوطي کلمه دې تمرین کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهه ویشتم لوست




**موخه**: د عمر د کلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

**پوښتنې** :

۱. د حضرت عمر(رض) په هکله مو څه اوریدلي دي؟

۲. د عمر لومړنی توری کوم دی؟



**فعالیت**:

پورته تمرین د نی په قلم د کرسي په خط مشق کړئ او هڅه وکړئ چې نزاکتونه یې په پام کې ونیسئ.

**ګران ښوونکی دې**:

د حضرت عمر(رض) په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي او د عمر د کلمې د لیکلو په وخت کې دې دوی ته لازمه لارښوونه وکړي او د ع د توري په اساساتوېي وپوهوي.

**کورنۍ دنده**: د عمر کلمه په نی قلم څو واره تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دېرشم لوست




موخه: د ف د توري ټکی ایښودنه او د کرسي په خط باندې د فقیر د کلمې له لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتني:**

۱. د فقیر کلمه له څو تورو څخه جوړه شویده؟

۲. د فقیر د کلمې لومړنی او وروستنی توری کوم دي؟



**فعالیت:**

زده کوونکي دې د فقیر د کلمې د تورو په اړه فکر وکړي او د ف د توري د ټکو ایښودنه دې زده کړي او پورتنۍ کلمه دې د نی په قلم څو واره مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې:**

د ټولګي په توره تخته د قلم حرکتونه زده کوونکو ته ورزده کړي او د فقیر د کلمې د تورو په اړه دې دوی ته معلومات ورکړي او د خط د اساساتو او نزاکتونو په هکله دې ورته وغږیږي.

**کورنۍ دنده:** پورتنۍ کلمه په پنسل او خود کار تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# یو دېرشم لوست



**موخه**: د (ق) د توري تکي اینبودنه او د کرسي په خط د قهار د کلمې له سمو لېکلو سره آشنا کیدل.

**پوښتنې**:

۱. آیا پوهېږئ چې قهار د چا نوم دی؟
۲. د (ق) توری چې د کلمې په منځ کې راشي کوم شکل غوره کوي؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د (ق) توري او د قهار د کلمې په هکله خبرې وکړي او بیا دې په نی قلم پورتنی مشق تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د ټولګي په توره تخته د قلم حرکتونه زده کوونکو ته ور وښیي او د قهار د کلمې په اړوند دې دوی ته پوره معلومات ورکړي.

**کورنۍ دنده**: پورتنی تمرین د کرسي په خط په پنسل او خود کار قلم ولیکئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# دوه دېرشم لوست



**موخه**: د ک د توري د ټکي ايښودنې او د کرسي په خط د کدو د کلمې له ليکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتني**:

۱. دخو کلمو نوم اخيستلی شئ چې لومړی توری يې ك وي؟
۲. ولې خلك د كدو خوراك خوښوي؟





**فعاليت**:

زده کوونکي دې د ک د توري او د کدو د کلمې په هکله فکر وکړي او بيا دې هغه د نی په قلم مشق او تمرين کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د نی قلم حرکتونه د ټولګي په توره تخته زده کوونکو ته وروښياست.

**کورنۍ دنده**:

پورتنی کلمه د کرسي په خط په پنسل او خـود کار قلم تمرين کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# درې دېرشم لوست



موخه : د ل د توري ټکي ايښودنه او د کرسي په خط د ليلى د کلمې له لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې:**

**۱. د ليلى د کلمې د دوو لامونو تر منځ کوم توری پروت دی؟**
**۲. د ليلى کلمه له څو تورو څخه جوړه شويده؟**



**فعالیت:**

زده کوونکي دې د پورتني مشق په هکله ژور فکر وکړي او بيا دې د نى پـه قلـم هغـه مشق او تمرين کړي.

**ګران ښوونکی دې:**

زده کوونکو ته د نی قلم حرکتونه د ټولګي په توره تخته وليکـي تـر څـو دوي د قلـم پـه حرکتونو وپوهيږي.

**کورنۍ دنده:**

**د کرسي په خط باندې پورته کلمه په پنسل او خود کار قلم تمرين کړئ!**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلور دېرشم لوست



**موخه** : د م د توري ټکی ايښودنه او د کرسي په خط د معنی د کلمې له لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کیدل.

**پوښتنې**:

۱. د ی د توري کاسه د کرسي د خط په کومې خواته پرته ده؟
۲. د معنی کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟



**فعالیت**:

زده کوونکي دې د م د توري د ټکي ايښودلو او د معنی د کلمې په اړه له یو بل سره خبرې اترې وکړي اوبیا دې پورته تمرین د نی په قلم مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

تاسې پوهیږئ چې د هرې کلمې د لیکلو په وخت کې د قلم حرکتونه بدلون مومې نو ځکه بیا بیا یادونه کوو، چې: د قلم حرکتونه زده کوونکو ته ورزده کړئ او هڅه وکړئ چې د دوی استعدادونو ته وده ورکړئ د دوي له سويې سره سم د خط اساسات ورته وښیاست.


**کورنۍ دنده**:

پورته کلمه په قلم او پنسل د کرسي په خط تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# پنځه دېرشم لوست



**موخه:** د ن د توري د ټکي ایښودنې او د کرسي په خط د نړۍ د کلمې له لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې:**

۱ـ د نړۍ په کلمه کې د پښتو د ژبې ځانګړي توری په ګوته کړئ؟
۲ـ د نړۍ کلمه له څو تورو څخه جوړه شویده؟



**فعالیت:**

زده کوونکي دې د ن توري ټکي ایښودلو ته ځیر شي تر څو دوی په دې وپوهېږي چې د ن د توري اساسات څه شی دي او بیا دې د ن توری له اساساتو سره او د نړۍ کلمه په نی قلم مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکي دې:**

د ن د توري اساسات لکه چې پاس دربنودل شوي دي، داسې معلومېږي چې د ن د پیل لوړوالی څو ټکی او کاسه یې څو ټکي او بیرته پورته کول یې څو ټکي دي. په دې اړه زده کوونکو ته پوره لارښوونه وکړي او پورتنی فعالیت دې پرې سرته ورسوي.

**کورنۍ دنده:** د نړۍ کلمه مشق او تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ دېرشم لوست



**موخه**: د ((و)) د توري د اساساتو او د ورور د کلمې له سمو لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې**:

١. د ورور د کلمې په اوریدو سره څه ولولې (احساس) در ته پیدا کیږي؟
٢. د ورور کلمه په کوم توري شروع او په کوم توري پاي ته رسیږي؟





**فعالیت**:

زده کوونکي دې د نی قلم حرکتونه د لیکلو په وخت کې په پام کې ونیسي او بیا دې هغه مشق او تمرین کړي.

**ګران ښوونکی دې**:

د نی قلم حرکتونه او د (و) توري اساسات زده کوونکو ته ور زده کړي او هڅه دې وکړي چې د (و) توري اساسات او د قلم حرکتونه زده کونکي خپل ذهن ته وسپاري.

**کورنۍ دنده**: پورته کلمه په قلم، پنسل او خودکار مشق او تمرین کړئ!


# اوه دیرشم لوست



**موخه**: د ه د توري ټکی اینبودنه او د کرسي په خط د هګۍ د کلمې له لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې**:

١. هګۍ خوړل څه ګټه لري؟
٢. د هګۍ کلمه له څو تورو څخه جوړه شویده؟




**فعالیت**:

د ((ه)) د توري د ټکو اینبودنه او د هګۍ د کلمې په اړه له یو بل سره خبرې وکړئ او بیا د نی په قلم دغه کلمه مشق او تمرین کړئ.

**ګران ښوونکی دې**:

زده کوونکوته د ((ه)) توري د ټکو اینبودنې او د هګۍ د کلمې په هکله پوره معلومات ورکړي او هڅه دې وکړي چې د ((ه)) توري کش شوی حالت ور وپیژني.

**کورنۍ دنده**:

پورتنۍ کلمه په قلم او یا پنسل باندې تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اته دېرشم لوست



**موخه** : د ((ی)) د توري د ټکي ایښودنې او د کرسي په خط د یوم د کلمې د لیکلو له طریقې سره آشناکول.

**پوښتنې:**

۱. یوم د څه لپاره په کار یږي؟
۲. تر اوسه مو د تورو ټکي ایښودنه لیدلې وه؟



**فعالیت:**

زده کوونکي دې د یوم کلمه او د ((ی)) د توري له ټکي ایښودنې سره ښه ځلی تمرین کړي او د خپل ښوونکي له نظره دې تیر او خپلو تیروتنو ته دې پوره پاملرنه وکړي او د اصلاح کولو هڅه یې وکړي!

**ګران ښوونکی دې:**

د یوم کلمه د کرکې په قلم د زده کوونکو په مخکې مشق کړي تر څو دوی د مشق کولو په طریقه او د قلم په حرکتو وپوهیږي د هر زده کوونکي کار وګوري او دوی ته لازمه لارښوونه وکړي او په هغو ټکو چې د ((ی)) د توري جګوالی دوه ټکي او اوږدوالی یې درې ټکي کیږي په دې هکله دې معلومات ورکړي.

**کورنۍ دنده:**

د نی په قلم، پنسل او خود کار قلم پورتنۍ کلمه څو څو واره تمرین کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نستعليق خط د تورو جدول

| مفرد توري | لومړني توري | منځني توري | اخيري توري |
|---|---|---|---|
| ا | | | ـا |
| ب | بـ بـ بـ | ـبـ ـبـ ـبـ | ـب |
| ج | جـ جـ جـ | ـجـ ـجـ ـجـ | ـج |
| د | | | ـد |
| ر | | | ـر |
| س ســ | سـ سـ سـ | ـسـ ـسـ ـسـ | ـس |
| ص | صـ صـ صـ | ـصـ ـصـ ـصـ | ـص |
| ط | | ـطـ ـطـ ـطـ | ـط |
| ع | عـ عـ عـ | ـعـ ـعـ ـعـ | ـع |
| ف فــ | فـ فـ فـ | ـفـ ـفـ ـفـ | ـف ـفــ |
| ق | قـ قـ قـ | ـقـ ـقـ ـقـ | ـق |
| ک کــ | کـ کـ کـ | ـکـ ـکـ ـکـ | ـک ـکــ |
| ل | لـ لـ لـ | ـلـ ـلـ ـلـ | ـل |
| م | مـ مـ مـ | ـمـ ـمـ ـمـ | ـم |
| ن | نـ نـ نـ | ـنـ ـنـ ـنـ | ـن |
| و | | | ـو |
| ه | هـ هـ هـ | ـهـ ـهـ ـهـ | ـه |
| ی ے | یـ یـ یـ | ـیـ ـیـ ـیـ | ـی ـے |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نسخ خط د تورو جدول

| مفرد توري | لومړني توري | منځني توري | اخيري توري |
|---|---|---|---|
| ا | | | ـا |
| ب | بـ بـ بـ | ـبـ ـبـ ـبـ | ـب |
| ج | جـ جـ جـ | ـجـ ـجـ ـجـ | ـج |
| د | | | ـد |
| ر | | | ـر |
| س س | سـ سـ سـ | ـسـ ـسـ ـسـ | ـس ـس |
| ص ص | صـ صـ صـ | ـصـ ـصـ ـصـ | ـص ـص |
| ط | طـ طـ | ـطـ ـطـ | ـط |
| ع | عـ عـ عـ | ـعـ ـعـ ـعـ | ـع |
| ف | فـ فـ فـ | ـفـ ـفـ ـفـ | ـف |
| ق ق | قـ قـ قـ | ـقـ ـقـ ـقـ | ـق ـق |
| ك | كـ كـ كـ | ـكـ ـكـ ـكـ | ـك ـك |
| ل | لـ لـ لـ | ـلـ ـلـ ـلـ | ـل |
| م | مـ مـ مـ | ـمـ ـمـ ـمـ | ـم |
| ن ن | نـ نـ نـ | ـنـ ـنـ ـنـ | ـن ـن |
| و | | | ـو |
| ه | هـ هـ هـ | ـهـ ـهـ ـهـ | ـه ـه |
| ی ے | يـ يـ يـ | | ـی ـے |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**